مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی
د ستراتېژيکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۲۸۴** (از ۲۲ الی ۲۹ جدی ۱۳۹۷ هـ ش)

**این نشریه مجموعهٔ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی، امنیتی، اقتصادی و اجتماعی هفته‌واری است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار و پالیسی‌ساز از آن استفاده نمایند.**

## آنچه در این شماره می‌خوانید:

مقدمه ........................................ ۲

### د افغان سولې بن‌بست او پر طالبانو سیمه‌ییز فشارونه

د سولې خبرې ولې و ځنډېدې؟ ........................................ ۴

پر طالبانو سیمه‌ییز فشارونه ........................................ ۵

سیمه‌ییز فشارونه به طالبان سولې ته اړ کړي؟ ........................................ ٦

### افزایش رویدادهای ترافیکی و مکلفیت‌های کاری حکومت

حوادث ترافیکی ........................................ ۸

عوامل رویدادهای ترافیکی ........................................ ۹

مسؤولیت‌های دولت و مردم ........................................ ۱۰

## مقدمه

د خبرو له لارې په افغانستان کې د روانې جګړې د پای ته رسولو په موخه، طالبانو تل له افغان حکومت سره له خبرو انکار او په دې برخه کې یې له امریکا سره پر خبرو ټينګار کړی دی. په تېرو څو میاشتو کې د افغان سولې په اړه د طالبانو او امریکايي استازو ترمنځ په قطر او متحده عربي اماراتو کې درې ناستې وشوې. د دغو ناستو په اړه داسې انګېرل کېدل چې دا لړۍ به د دواړو لورو ترمنځ د خبرو له لارې د افغان جګړې د پای ته رسېدو په موخه یوه توافق لار هواره کړي؛ خو په وروستیو کې دا خبرې د بْن‌بست له ګواښ سره مخاخ شوې ښکاري.

امریکا او افغان حکومت هڅه کوي چې له مختلفو لارو په ځانګړې توګه د سیمې د هېوادونو په واسطه پر طالبانو فشارونه راوړي ترڅو له افغان حکومت سره خبرو ته کېني؛ خو داسې ښکاري چې دغو فشارونه روانې خبرې له خنډ او ځنډ سره مخ کړې. څکه طالبانو د یوه اعلامیې په خپرولو سره ګواښ کړی چې که امریکا په افغانستان کې د سولې په تړاو خپله تګلاره سمه نه کړي، طالبان به له امریکایانو سره د سولې هر ډول خبرې وځنډوي.

په ورته وخت کې زلمي خلیلزاد بیا کابل ته د خپل سفر په پر مهال ویلي چې که طالبان د سولې په ځای جګړه کوي امریکا ورسره جګړه کوي او د افغان حکومت په خوا کې درېږي او ملاتړ یې کوي. د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز د اوونۍ تحلیل لومړۍ برخه همدې موضوع ته ځانګړې شوې.

د اوونۍ تحلیل په دویمه برخه کې بیا په افغانستان کې د ټرافیکي پېښو د زیاتوالي او په دغو پېښو کې د خلکو د مرګ‌ژوبلې پر لاملونو بحث شوی دی. له جګړې او طبیعي پېښو ور هاخوا، هر کال په افغانستان کې د ټرافیکي پېښو له امله هم زرګونه کسانو ته مرګ ژوبله اوړي، له همدې امله اړتیا ده چې د دغو پېښو پر لاملونه پوی او د مخنوي لارې چارې یې و لټوو.

# د افغان سولې بُن‌بست او پر طالبانو سیمه‌ییز فشارونه



په افغانستان کې د روانې جګړې د پای رسولو په موخه له تېرو څو میاشتو راهیسې د امریکا په مشرۍ هلې ځلې روانې دي. په دغه موده کې د طالبانو او امریکا ترمنځ درې ځله مخامخ خبرې وشوې؛ خو دا خبرې د ابوظبۍ له ناستې را وروسته ځنډېدلې او داسې ښکاري چې پر وړاندې یې ځینې خنډونه پیدا شوې دي.

د ابوظبۍ له ناستې وروسته په لومړیو کې ویل کېدل چې ښایي دواړه لوري په سعودي عربستان کې سره کېني، خو وروسته د ناستې ځای قطر هېواد وټاکل شو، چې ظاهراً پر اجنډا د اختلاف له کبله په قطر کې هم دغه ناسته ترسره نه شوه.

د دغې ناستې د لغوه کېدو په اړه انګېرنې دادي چې د افغان سولې په اړه روانې خبرې د یو شمېر هېوادونو ترمنځ د خپل‌منځي اختلافونو له کبله ځنډېدلې دي او د سیمې ځینې هېوادونو ته د افغانستان د ملي امنیت سلاکار حمدالله محب او د افغان سولې لپاره د امریکا د ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد وروستي سفرونه هم په همدې موخه پیل شوي دي، تر څو رامنځته شوي خنډونه له منځه یوسي.

دا چې د افغان سولې په اړه د امریکا ـ طالبان خبرې ولې ځنډېلې دي او د دې خبرو د بیا پیل په موخه به، پر طالبانو د سیمې د هېوادونو فشارونه څه اغېز ولري؟ هغه پوښتنه دي چې دلته یې په اړه بحث شوی دی.

## د سولې خبرې ولې و ځنډېدې؟

د امریکا ـ طالبان ترمنځ د مخامخ خبرو له پیل سره په افغانستان کې د روانې جګړې د پای ته رسېدو په اړه نوې هیلې را وټوکېدې. د دغو خبرو دوام او درې ځله د امریکا او طالب استازو ترمنځ مخامخ خبرې، د پاکستان له زندانونو څخه د طالب مشرانو خوشې کېدل، د سولې په خبرو کې د طالبانو د نظامي چارواکو په ځانګړې توګه د حقاني شبکې د غړو ګډون، ټول هغه موارد وو چې په افغانستان کې یې د روانې جګړې د پای ته رسېدو په اړه د روانو خبرو پایلو ته خلک خوښ کړي وو.

د افغان سولې په اړه د امریکا ـ طالبان د مخامخ خبرو په لړ کې له دریو ناستو را وروسته څلورمه ناسته ـ چې ټاکل شوې وه په قطر کې ترسره شي ـ وځنډېده او ظاهراً د دې ځنډ لامل د دواړو لورو ترمنځ د غونډې د اجنډا پر سر اختلاف بلل کېږي؛ خو له دې پرته ځینې نور لاملونه هم شته چې کېدای شي د خبرو په ځنډ کې رول ولري:

**لومړی:** له افغانستانه د امریکایانو وتل د سولې په خبرو کې له لومړي سره د طالبانو له لوري تر ټولو ستر شرط و. په وروستیو خبرو کې هم د طالبانو له لوري له افغانستانه د امریکایانو پر وتلو ټینګار شوی دی؛ خو انګېرنې دادي چې امریکا نه غواړي له افغانستانه په پوره توګه خپل ځان ټول کړي، بلکې غواړي چې کمه اندازه سرتېري په دغه سیمه کې ولري. له همدې کبله په روانو خبرو کې تر ډېره هڅه کوي چې طالبان په یو ډول له دوی سره په افغانستان کې یوه یا دوې نظامي اډې ومني.

**دویم:** په روانو خبرو کې یو بل ستر خنډ چې کولای شو د سولې د خبرو د ځنډ لامل یې وګڼو، له افغان دولت سره د طالبانو نه خبرې کول دي. افغان حکومت هڅه کوي چې له طالبانو سره مخامخ د سولې خبرې وکړي؛ خو طالبانو تل له افغان دولت سره د سولې خبرې رد کړې دي. په دې اړه د امریکا او خپله د افغان دولت هڅې دادي چې پر طالبانو د نورو هېوادونو په واسطه فشارونه راوړي، ترڅو له افغان دولت سره خبرو ته کېني.

**درېیم:** د سولې د روانو خبرو د ځنډ په اړه یو بل لامل بیا خپله طالبانو ته ورګرځي او هغه د دې ډلې ځینې محدودیتونه دي. د بېلګې په توګه د سعودي عربستان او قطر هېوادونه ترمنځ شته مخالفت، د طالبانو پر وړاندې یو محدودیت ګڼل کېږي او دا هغه څه ګڼلی شو چې طالبان یې په روانو خبرو کې د تصمیم‌نیونې په برخه کې له ستونزو سره مخامخ کړي دي. په روانو خبرو کې طالبان اړ دي، تر څو د هغو ټولو اړخونو مشورې او غوښتنې په پام کې ونیسي چې له دوی سره یې په تېرو ۱۸ کلونو کې په یو ډول نه، یو ډول اړیکې درلودې او همکاري یې ورسره کړې ده.

## پر طالبانو سیمه‌ییز فشارونه

د افغان سولې په اړه د روانو خبرو له ځنډېدو سره یو ځل بیا افغان حکومت او د افغان سولې لپاره د امریکا ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد د سیمې یو شمېر هغو هېوادونو ته سفرونه پیل کړي، چې ښکاري په سیمه کې هم رول لري او هم په افغانستان کې د روانې جګړې د پای ته رسېدو په برخه کې همکاري کولی شي.

زلمي خلیلزاد د خپل ماموریت د څلورم سفر په لړ کې د افغانستان په ګډون چین، هند او پاکستان ته سفرونه وکړل. همدارنګه د افغانستان د ملي امنیت شورا سلاکار حمدالله محب هم چین، هند او سعودي عربستان هېوادونو ته ولاړ. دوی دواړو تر ډېره یوه موخه تعقیبوله او هغه دا چې په افغانستان کې د روانې جګړې د پای ته رسېدو په برخه کې د دغو هېوادونو همکاري جلب او له افغان حکومت سره د سولې خبرو ته د طالبانو د حاضرېدو په اړه هلې ځلې وکړي.

چین د سیمې هغه هېواد دی چې په نورو هېوادونو کې د لاسوهنې او له نورو هېوادونو سره د شخړو سیاست پرمخ نه وړي، بلکې د اقتصادي سیاستونو له لارې غواړي خپل ځواک پراخ کړي. دغه هېواد د سیمې په کچه د کابل-اسلام‌آباد اړیکو په رغولو او افغان سولې پروسه کې مرسته کولای شي؛ ځکه چین د خپلو اوږدمهالو ګټو لپاره یو با ثباته افغانستان غواړي.

سعودي عربستان له یوې خوا په اسلامي نړۍ کې لوړ مقام لري او له بلې خوا بیا هغه هېواد دی چې په وروستیو کې پاکستان ته د میلیاردونه ډالرو د ورکړې اعلان کړی او کولای شي چې د پاکستان له لارې پر طالبانو له افغان حکومت سره د سولې خبرو ته د کېناستلو په موخه فشار راوړي.

پاکستان تر بل هر هېواد پر طالبانو زیاد نفوذ لري او داسې ویل کېږي چې د طالبانو تر ټولو ډېر پټنځایونه په دغه هېواد کې دي. له همدې کبله د افغان سولې په اړه تل پاکستان ته تمه کېږي. د افغان سولې په اړه له ډېرې مودې پر پاکستان د امریکا فشارونه دي او داسې ښکاري چې پاکستان د دغو فشارونو له کبله پر طالبانو کار هم پیل کړی دی. ځکه تېره اوونۍ راپورونه خپاره شول چې پاکستاني پوځیانو په خیبرپښتونخوا کې یو لوړ پوړی طالب چارواکی نیولی؛ خو له څو ساعتونو وروسته یې بېرته خوشې کړی دی.

## سیمه‌ییز فشارونه به طالبان سولې ته اړ کړي؟

د امریکا او افغان دولت له لوري پر طالبانو د فشارونو په لړ کې تېره اوونۍ دغې ډلې د یوې اعلامیې په خپرولو سره ګواښ وکړ چې که امریکا په افغانستان کې د سولې په تړاو خپله تګلاره سمه نه کړي او بېرته هغې اجنډا ته را ونه ګرځي چې د دواړو لورو ترمنځ یې په اړه هوکړه شوې وه، طالبان به له امریکایانو سره د سولې هر ډول خبرې وځنډوي.

طالبانو ویلي چې امریکایانو د ۲۰۱۸م کال د نومبر په ناسته کې موافقه کړې وه چې په راتلونکې غونډه کې به له افغانستان څخه د بهرنیو ځواکونو په وتلو او نورو هېوادونو په خلاف د افغانستان د خاورې د نه استعمالولو پر موضوع خبرې کوو؛ خو اوس مهال دوی له هغې اجنډا څخه ډډه کوي او په خپله خوښه نوي موضوعات پکې ځایوي.

همدارنګه په دغه اعلامیه کې ویل شوي چې «که امریکایان غواړي په ښه نیت مذاکراتو ته راشي او د افغانستان د مسلمان ولس مشروع غوښتنې ومني، په داسې کولو سره مسئله حل کېدای شي؛ خو که د افغانانو د مشروع غوښتنو له منلو تېښته کوي او په یوه او بله پلمه، د سولې تر نوم لاندې خپل استعمال او نظامي اهداف له سیاسي لارو تعقیبوي یا د نورو هېوادونو د تطمیع له لارې ناروا فشارونه اچوي، دا معنا لري چې د افغانستان د مسئلې په سوله‌ییز حل کې دلچسپي نه لري.»

د طالبانو له دغې اعلامیې داسې ښکاري چې د افغان سولې په اړه د امریکا ـ طالبان ترمنځ د خبرو په پروسه کې پر طالبانو د سیمه‌ییزو فشارونو له زیاتوالي سره د سولې دغه نوې پروسه له ګواښ سره مخ شوې ده.

تېره اوونۍ رویټرز خبري آژانس ویلي و چې د افغان سولې د خبرو د ځای پر سر اختلاف د سولې د خبرو په ځنډ کې یو مهم فکتور دی او دا اختلاف د سیمې د یو شمېر هېوادونو د خپل منځي لانجو له کبله رامنځته شوی دی. د رویټرز په حواله چې سعودي عربستان او متحد عربي امارات نه غواړي د سولې خبرې په قطر کې وشي؛ خو بلخوا بیا ایران په عربستان او متحده عربي اماراتو کې د سولې له خبرو سره مخالفت کوي.

له دې بربښې چې د سولې د پروسې بیا پیل لپاره د ښکېلو هېوادونو ځېلمنځي اړیکې هغه مهم فکتور دی، چې کولای شي دا پروسه هم بریا ته ورسوي او هم یې ناکامه کړي. په داسې وضعیت کې افغان حکومت او امریکا ته لازمه ده چې د سولې روانه پروسه د سیمې د هېوادونو خپل‌منځي اړیکو د مخالفتونو له سیوري لرې وساتي او هڅه وکړي چې د دې پروسې د بیا پیل او بریا په موخه یوه رښتینې سیمه‌ییزه اجماع رامنځته کړي.

# افزایش رویدادهای ترافیکی و مکلفیت‌های کاری حکومت



علاوه از این که به اثر جنگ جاری، رویدادهای مختلف امنیتی و حوادث طبیعی روزانه دها تن از شهروندان افغانستان کشته و زخمی می‌شوند، حوادث ترافیکی نیز از مواردی دیگر می‌باشد که همه‌ساله باعث کشته و زخمی شدن بسیاری از هموطنان ما می‌گردد.

معلومات تازهٔ که از سوی وزارت صحت عامهٔ افغانستان ارائه شده، در سال ۲۰۱۸م ۵۲هزار و ٦٥٧ نفر به اثر مجروح و مصدوم شدن در رویدادهای ترافیکی به شفاخانه‌ها در این کشور مراجعه کرده‌اند. این در حالی است که در جریان همین سال در پی رویدادهای انفجاری و انتحاری در سراسر کشور ۴هزار و ۵۵۵ نفر زخمی به شفاخانه‌ها منتقل شده‌اند.

این آمار نشان می‌دهد، افرادی که در جریان سال ۲۰۱۸م در رویدادهای ترافیکی زخمی شده‌اند، دوازده برابر شمار افرادی می‌باشد که در جریان همین سال در رویدادهای انتحاری و انفجاری زخمی شده‌اند.

افزایش رویدادهای ترافیکی، عوامل عمدهٔ رویدادهای ترافیکی در افغانستان و این که در این رابطه بایدهای کاری دولت و ملت چه است؟ از مواردی اند که در اینجا مورد بحث گرفته شده اند.

## حوادث ترافیکی

رویدادهای ترافیکی و تلفات سنگین آن در سراسر جهان یکی از معضلات اساسی سلامت عمومی می‌باشد که نگرانی‌های زیادی ایجاد کرده است. بر بنیاد آمارهای سازمان جهانی صحت (WHO) سالانه در سراسر جهان بیش از ۱.۲۵میلیون نفر به اثر رویدادهای ترافیکی کشته و حدود ۲۰ الی ۵۰ میلیون نفر دیگر دچار جراحت و معلولیت می‌شوند.

روز ۱۸ نوامبر در سراسر جهان برای گرامی‌داشت از قربانیان رویدادهای ترافیکی هر سال گرامی‌داشت می‌شود. این روز از سال ۱۹۹۳م از سوی بنیاد خیریه صلح جاده (Road Peace) بنا نهاده شد و در سال ۲۰۰۵م سازمان ملل متحد این روز را به رسمیت شناخت.

هدف از گرامی‌داشت این روز تشویق دولت‌ها به آموزش مسائل ایمنی، بهبود جاده و افزایش ایمنی وسایل نقلیه است. با آنکه دولت افغانستان نیز به اهداف برنامه توسعه پایداری سازمان ملل متحد، متعهد شده است که در این کشور تا سال ۲۰۲۰م حوادث ترافیکی را نصف و در سال ۲۰۳۰م جاده های افغانستان را امن می‌سازد، اما حوادث ترافیکی همه‌ساله افزایش می‌یابد و تاکنون اقداماتی چشم‌گیری در این زمینه روی دست گرفته نشده، تا از وقوع چنین رویدادها جلوگیری کند.

بر اساس معلومات سازمان جهانی صحت، افغانستان یکی از کشورهایی است که گراف تلفات ناشی از رویدادهای ترافیکی در آن بلند می‌باشد. همچنان بربنیاد معلومات ادارۀ مرکزی احصائیه افغانستان آمار رویدادهای ترافیکی همه ساله در این کشور در حال صعود است و این باعث شده تا در آمار قربانیان حوادث ترافیکی نیز افزایش آید. به اساس معلومات مدیریت عمومی ترافیک تنها در شهر کابل از اول ماه حمل سال ۱۳۹۷هـ ش الی آخر ماه عقرب همین سال ٥٦٢ حادثۀ ترافیکی شده که در آن ۲۲۱نفر کشته و ۳۷۲ تن دیگر زخمی شده اند.

**جدول-۱: میزان حوادث ترافیکی در افغانستان (۱۳۹۴ -۱۳۹٦)**[1]

| سال | ۱۳۹۴ | ۱۳۹۵ | ۱۳۹٦ |
|---|---|---|---|
| بس | ۲۳۵ | ۳۴۸ | ۲٦۹ |
| لاری | ۳٦۰ | ۴۰۳ | ۴۴۳ |
| تیز رفتار | ۱۱٦۹ | ۱۰۴۸ | ۱۴۹۸ |
| موتر سایکل | ۱۱٦۳ | ۱۲۹۰ | ۱۰۳۱ |
| **مجموعه** | **۲۹۲۷** | **۳۰۸۹** | **۳۲۴۱** |

## عوامل رویدادهای ترافیکی

عوامل متعددی وجود دارد که همه ساله باعث وقوع رویدادهای مرگبار ترافیکی در افغانستان می‌شود که می‌توان عمده‌ترین آنها را طور ذیل بیان کرد:

1. **خرابی و عدم معیاری بودن سرک‌ها:** خرابی و عدم معیاری بودن سرک‌ها را می‌توان عامل اصلی حوادث بزرگ ترافیکی در افغانستان دانست. با وجود این که افغانستان یک کشور کوهستانی و دارای راه‌های پرخم و پیچ می‌باشد و اکثریت شاهراه‌های این کشور با وصف اینکه از میان کوه‌ها و دره‌ها میگذرد، این شاهراه‌ها خامه یا نیمه خامه، تنگ و بدون نصب علامات ترافیکی می‌باشند و باعث حادثات ترافیکی می‌شوند.

   همچنان به دلیل موجودیت فساد گسترده در قراردادهای سرک‌سازی، بیشتر سرک‌ها کشور به صورت غیر معیاری ساخته شده و طبق استندردهای جاده‌یی جهان نمی‌باشند. عدم کنترول وزن مجاز وسایط بابری، انفجارها و حوادث دیگر ناامنی نیز باعث گردیده تا سرک‌های کشور تخریب شوند.

[1] آمار حوادث ترافیکی از سال ۱۳۹۴ الی سال ۱۳۹۶ از ادارۀ مرکزی احصائیه گرفته شده است.

2. **تکرانی و غیرحرفه‌ای بودن راننده‌ها:** تکرانی دریوران در موترهای مسافربری در مسیرهای طولانی؛ چون شاهراه‌های کابل - هرات یا کابل – بدخشان، همچنان بی‌توجهی مقامات ترانسپورتی کشور، عدم نظارت ترافیک بر وسایط نقلیه در شاهراه‌ها و نبود قانون منظم ترانسپورتی باعث شده تا راننده‌گان موترهای مسافربری همواره از مقررات ترافیکی سرپیچی کنند. غیر حرفه‌ای بودن اکثریت دریوران، سرعت‌گیری بی‌موقع و رقابت‌های ناسالم و بیرحمانهٔ شرکت های مسافربری همه از جمله عوامل مهم حوادث ترافیکی در کشور می‌باشند.
3. **اعتیاد راننده‌گان به مواد مخدر:** بسیاری از رانندگان در شاهراه‌ها از مواد مخدر استفاده می‌کنند و در حالت نشه رانندگی می‌کنند. همین استفادهٔ مواد مخدر از طرف راننده‌گان موترهای مسافربری بخصوص جهت دفع خواب و خسته‌گی در هنگام راننده‌گی، باعث حوادث ترافیکی می‌گردد.
4. **عدم رعایت قوانین ترافیکی:** رعایت قوانین ترافیکی، از جمله بستن کمربند محافظتی در هنگام رانندگی، و یا پوشیدن کلاه در هنگام راندن موترسایکل می‌تواند از برخی تلفات حوادث ترافیکی جلوگیری کند. ولی در نظر نگرفتن مقررات حفاظتی و رعات قوانین ترافیک باعث گردیده که تلفات ناشی از حوادث ترافیکی در افغانستان بیشتر باشد.

## مسؤولیت‌های دولت و مردم

کاهش و کنترول رویدادهای ترافیکی ملزم به همکاری میان شهروند و دولت می‌باشد. توجه هر دو طرف به این امر و همکاری آنان با همدیگر می‌تواند جلو بسیاری از مرگ‌ها و جراحات را بگیرد.

دولت افغانستان به سبب اینکه مسؤولیت دارد تا از جان و مال مردم حراست داشته و اقدامات جدی را جهت جلوگیری از واقعات مرگ آفرین و حادثات تلفزا در پیش بگیرد، لازم است بعضی از موارد مهمی را در مبارزه با حوادث ترافیکی مدنظر بگیرد:

**نخست:** نصب وسایل لازم ترافیکی همچون علامات ترافیکی، سرعت سنجها، وزن سنجها و نیز کنترل درست از شرکت‌های سرک سازی که برنده در قراردادها از سوی دولت می‌شوند، از جمله مواردی می‌باشد که لازم است دولت برای تطبیق آن گام بردارد. چون همه در کاهش رویدادهای ترافیکی نقش مؤثری دارند. توجه به اینها نه تنها باعث جلوگیری از حوادث ترافیکی می‌شود بلکه باعث حفاظت و سالم ماندن سرک‌ها و کنترل در مصرف عایدات دولت می‌شود.

**دویم:** نظارت درست از تطبیق قانون ترافیکی باعث می‌شود که ترافیک در کار شان سهل‌انگاری نکنند و نیز دریوران و مسافران هنگام سفر به مقرارات لازم همچون محکم نمودن کمربند، ◌پابند باشند. درین صورت می‌توان از حوادث ترافیکی جلوگیری به عمل آورد.

**سوم:** فساد درنهادهای ترافیک باعث گردیده تا راننده‌گان بدون دوره آموزشی و اخذ امتحانات ترافیکی، به آسانی به جواز راننده‌گی دست‌یابند. همچنان چشم‌پوشی از جرم‌های ترافیکی در مقابل چند افغانی نیز باعث شده که راننده‌ها قانون شکنی کنند. بر این است جلوگیری از فساد ترافیکي یک نیاز جدی برای کاهش حوادث ترافیکی است.

علاوه از حکومت مردم نیز باید نسبت به حوادث ترافیکی بایدهایی را جهت سلامت خود و اطرافیان و حفظ نظم جامعه در نظر بگیرد. در این میان از همه نخست به صاحبان‌شر کت‌های مسافربری مسؤولیت برمی‌گردد تا دریوران موترها، کیفیت وسایط، تسهیل امکانات و ارائه خدمات را در کنترول خود داشته و مطابق با قوانین و لوایح ترافیک کشور عمل کنند.

دریوران که پل ارتباطی میان شرکت‌ها و مسافرین هستند، با درک این که «احتیاط کردن در رانندگی نشانهٔ ترس یا کم تجربگی نیست، علامت و نشانه علاقمندی شما به جان و مال خودتان و دیگران است.» باید بدانند که مسؤولیت مسافرین و حوادث به دوش آنها بوده و چگونگی علایم و ساختارهای ترافیکی متوجه آنها خواهد بود. پس نباید جان خود و ده‌ها تن از هموطنان تان را در مقابل تقدیرهای بازرگانی و لذت جویی های سبقت گیری قربان نمایید.

همچنان رونده‌گان یا مسافرین که حامیان اقتصادی شرکت‌ها و رانندگان و متضررین اصلی حوادث ترافیکی هستند. باید بدانند که چگونه و بنا بر کدام اساس برای سفر خویش موتر انتخاب کنند، زیرا هیچ یک از رانندگان آنها را رایگان انتقال نمیدهد. پس نباید در شرکت‌های که دارای لوازم بهداشتی نمی‌باشند، سفر نمایند. پایان


**ارتباط با ما:**

**ایمیل:** info@csrskabul.com - csrskabul@gmail.com

**وب سایت:** www.csrskabul.com -- www.csrskabul.net

**شمارهٔ تماس دفتر:** (+93) 202564049 - (+93) 784089590

**محقق و مسؤول تحلیل هفته:** ضیاءالاسلام شیرانی (+93) 764747548 zi.shirani@gmail.com

**محقق و مسؤول نشر تحلیل هفته:** احمدشاه راشد (+93) 784249421 ahmadshahr786@gmail.com